دمقالی لیکونکي : *جوستین رایماندو* (*Justin Raimondo*) .
منبع او دخپریدو نیټه : *انفارمیشن کلیرنګ هوز* «۲۶-۸-۲۰۱۴» .
ژباړونکی : پوهندوی *دوکتور سیدحسام «مل»* .
---------------------------------------------

# دعراق اود سوریې داسلامی دولت (ISIS) جوړید نه دواشنګټن – ریاض اودتل ابیب په لاس

## (ISIS) Made in Washington – Riyadh –and Tel-Avive

## دداکتر فرانکشتاین څخه ډیرو نورو ددغه غټه بلا مسول ګڼل کیږی

there 's more than one Dr. Frankenstein responsible for this monster

*اګست «۲۶-۲۰۱۴ » انتی وار- انفارمیشن کلیرنګ هوس*: د عراق شا م اسلامی دولت موضوع اوس دامریکی دمتحده ایالاتو په د ننه کی د یوی نوی ګواښ په بڼه په داسی یو هیستریکی (بیسده) تبلیغ اوپروپاګند اغوښتی دی چی شیکا ګو ته په ا شا ری سره د یو بشپړ نګرانی او دعلاقمندی په صفت سررا وچت کړی اومونږله جمهور ریس څخه ښکته یا لاندی نورو ټولو ته داسی یا ده کړی : چی که چیری مونږ پردغه را پیدا شوی بلا اوددی ګواښ پر عاملینو باندی ونه دانګو یا یرغل وینوړو نودبیلګی په بڼه شاید مونږ مجبورکړی چی بیرته عراق (حتی په سوریه کی به د خطراتو سره به په مخ شو ) ته واوړو اود دغه غټه بالا ریښی وکاوږ اوکه چیری داسی ونکړو لیری به نه وی چی دغه غټه بلا به دامریکی د متحده ایالاتو سواحلو ته ځان ونه رسوی ؟

پس نودا څرنګه انګیرل کیږی چی دهغوکاربه څه رنګه وی؟ هوکی تا سی ولید ل چی دغه بی جلبه هیولا یا غټه بلا د«جیمز فولی» سرچی په انګلیسی لهجه باندی خبری کول دهغه له تنی څخه څرنګه غوڅ کړل ، سربیره پرهغه اوس داسی راپورنه تر لاسه شوی چی ګڼ شمیر بریتا نوی او امریکا یی ا تباعو سوریی ته په سفر روان دی چی د عراق وشام اسلامی دولت د پا ره وجنګیږی یعنی دهغه په ملاتړ سره هلته په سوریه کی جهاد وکړی ، پس نو دغه جها دیا ن تول له یو سره (جهادی انترناسیونالیستان ) دی اوکولای شی چی بیرته بریتانیا اویا امریکی ته واوړی اودلته یوه بله د (۹/۱۱) ورته پیښنه په لنډه موده کی تر سره کړی .

اجازه راکړی چی دامریکی دفدرال دپولیس (FBI) خبری یواړخ ته کیږدو کوم چی هغو داسی توضیخ کوی :« هغو ټولو امریکایانو کوم چی دامریکی څخه دباندی اوسیږی ممکن دعراق شام داسلامی دولت د ځنو ناځرګندو اود نا مشخصو درجو تهدیداتو احساس ولری ، اما دلته دامریکی په قاره کی دهیڅ یو ډول «یقینی یا ریښتیانی تهدید» کوم چی د عراق شام اسلامی دولت له خوا ترسره شی ممکن نه بریښي یا له تصوره څخه

لیری دی »، په هرصورت که چیری مونږ دکورپه دننه ( په متحده ایالاتو ) کی دعراق شام داسلامی دولت تهدید په نظر کی ونیسو هغو به ټول هغه ډیر شدید جنګی تبلیغات او پروپاګندونه به وی کوم چی زمونږ په با ور دلته ټول غربی اجرایوی سازمانونه ددی ډول تبلیغاتو مجریان دی اودهغو لارشونه یا دستور دادی چی نن د نړی په هر څنډه کی داړیکو دوسایلو « لکه نظارتی وسایل ، تیلیفون» څخه په کاراخیستو سره ستونزی له مینځه وړل کیږی اودلته دهیڅ یواندیښنی ځای نه پاتی کیږی چی مشکوک ا شخاص وشی کړی چی دنیویارک یا دلندن له لاری څخه سوری ته سفروکړی حال داچی په ډاګه باید وویل شی چی دلته هیڅ یو قدرت نه ترسترګو کیږی چی ددغه مشکوک اشخاصو وطن ته دبیرته راګرځیدو مخه ونیسی .

دبلی خوا څخه مونږ باید په دی لنډ موده کی پریو بل هیواد( یا دوه هیوادونو) باندی تجاوز وکړو اوداځکه چی زمونږ خپله د(۹/۱۱) دپیښی څخه لا تراوسه عملاً امنیتی تدابیرنه مودی نیولی یا یی نه لرو سره دهغه چی مونږ په ملیاردونو اوبی حد اوحصر پیسی دبیا جوړونی د پاره په مصرف ورسول .

ایا کیدای شی چی دا موضوع ریښتیا اوصحیح وی ؟

که چیری مونږ د امریکی د متحده ایالاتو د ژورنا لیست ښاغلی جمیز فولیی( James Foley) د سردغوڅید ودهستری(په تصور کی ځانته دډاراودوهم انځوررامینځ ته کول ) څخه شاته ګام کیږدو نوهغه وخت به مونږ ته دا موضوع روښانه شی چی دا دامریکی متحده ایالات اودهغه ملګری اومتحدین دی چی دغه لوی بلا او شیشکه په منطقه کی مینځ ته راوړی یا یی ایجا د کړی دی .

بل مهم مطلب چی دهغه یادونه دلته ضرور ګڼل کیږی هغه دادی چی دعراق اوشام اسلامی دولت دخمکی په مخ لکه دنورو اسلامیستی مختلفو آینونوپه څیر خود په خوده دخپل فزیکی دفاع په خاطر په افسا نوی بڼی سره داسی مځکی له مځکی چمتو شوی مهارتونه نه دی پکار وړلی کوم چی په داسی یو لنډ وخت کی سر را وچت کړی بلکه دغه اسلامیستان یا دداعیش ډلی ټبلی هرومرو پیسی ، مختلف النوع سلاح ، دتبلیغ اود اوپروپاګند دپاره وسایل اونړیوالوسره داړیکو دټینګولودپاره ،اویا ددغه پورتنی شرایطو اویا دموادودلاسته راوړلو دپاره حتمی دی چی یو لوړسازماندهی ته ضرورت لرل لکه دوی چی په دی لنډه موده کی سرراوچت کړی نو بی له شکه دغه ډلی ټپلی هرومرو له کوم منبع اویا له کوم پیاوړی ارګان څخه مرستی ترلاسه کړی دی ؟ او بی له دی مرستی سره غیرممکن دی چی یوه ډله ټپله (داعیش) په افسانوی بڼی سره په یوه لنډه موده کی رامینځته شی .

اوس دداعیش سره دملاتړ موضوع له هیچا څخه پټ او پنهان نه دی اوهغه داچی سعودی عرب ، قطر اودخلیج دحوزی دتیلو دغنی زیرمو هیوادونو دداعش د غورځنګ

تر شا ولاړ دی اودهغه څخه پوره ملاتړ کوی یو ددی ملاتړ کونکی څخه شهزاده بندر ال سلطان (prince Bandar al- sultan) دی چی مخکی داطلاعاتو داژانس مشر او په اوس وخت کی دسعودی عرب دملی امنیت دشورا مشردی کوم چی هغه په هراړخیز بڼی سره دداعش یا ددغه افراطی اسلامیستانو سره مرسته اوکمک ترسره کوی ، له یاده باید ونه ایستل شی چی قطر اودخلیج نورو هیوادونه هم ددغه افراطی اسلامیستانو سره چی په سوریه کی جهاد کوی حاتم طایی مابانه مرستی ترسره کوی کوم چی دامریکی دمتحده ایالات له نظره ډیر راد یکال جهاد یا ن منل شوی دی .

گرچی اوس په دی تازه وختونو کی داسی راپورنه تر لاسه شوی چی دامریکی متحده ایالات پرهغوهیوادونو باندی فشار اچولی دی چی خپل مرستی د داعش سره سمدلاسه بند کړی اما دبلی خوا څخه اوس له هغه ځایه څخه چی ددغه غورځنگ موجودیت په منطقه کی په اصطلاح سره یو انجام شوی واقیعت دی نوځرنگه کیدای شی چی وویل شی دهیوادونو مرستی ددغه غورځنگ څخه بند شوی دی حا ل داچی اوس هم دغه مرستی په پټه د ځمکی تر لاندی ددغه غورځنگ سره ترسره کیږی .

دواشنگټن مسولیت دعراق شام د اسلامی دولت دبریالیتوب دپاره یوڅه لږغیر مستقیم بڼه لری اما نه هم لږ رټل شوی یا په بل عبارت دامریکی متحده ایالات دداعش بریا سره خپل مسولیت لږ څه مستقم منی اما دبلی خوا څخه نوموړی غورځنک لږ مردود (رټل شوی ) بولی.

یو بل مهم مطلب اوهغه داچی دامریکی دمتحده ایالاتو چارواکی حتی له هغه وخته چی دامریکی دمتحده ایالاتو جمهورریس« بارک اوباما » وویل چی بشر الاسد باید حتماً لاړ شی یا دقدرت څخه گوښه شی د سوريي د شورشی گروپونوته کوم چی وروسته دهغو په ترکیب او په رهبری کی تغیر رامینځ ته شو دما لی مرستی اعلام وکړامریکی بالفعل دهغوگروپونوسره په وحدت اوپه نژدی تماس کی وه کوم چی وروسته دهمغو گروپونوپواسطه سره دعراق اوشام اسلامی دولت مینځ ته راغی یاتشکیل شو،او دسوريي دآزاد پوځ یا دسوريي اسلامستا نوته بودجه اوما لی مرسته هم تصویب اوتاید شو زمونږ ځیرنه اوارزیابی داسی وښودل چی دسوريي دغه اسلامگرا اداره یعنی د عراق اوشام اسلامی دولت هغه پیاوړی او یواځنی زورواک قوت دی چی کولای شی د اسد د بحث دولت ریښی له سوريي څخه وباسی .نو په دی وجهه دامریکی متحده ایالات دسوريي دآزاد پوځ سره په ښکاره بڼی په میلینونو دالرمرسته تر سره کړ اوپه عین وخت کی چاته به معلوم وی چی څومره نورپیسی به په پټه سره دسوری دآزاد پوځ په نا مه سره مرسته شوی نه وی اویا څوک په دی پوهیږی چی ددغه مرستی شوی پیسی یوڅه مقدار پیسی د عراق اوسوريي داسلامی دولت په خزانه کی تحویل شوی نه وی ، اوله بلی خوا څخه کله چی په ثابت توگه سره دسوريي دآزاد پوځ په جوړونو اوراجوړونو کی هلی ځلی کیدل نو دغه دکربوړی په ځیر سوريي ته د پناه وړونکو شورشی گروپونو برخه لیک

په څه ډول وه ؟ ا یا دغه پنا ه وړونکی اویا جداشوی  شورشی ګروپونه کومه بله لاره درلودل ؟ غیر له دی نه چی دافراطی اسلامی نظامی او ملیشایی ګروپونو سره یوځای شوی نه وای ؟ اوخپل لاره دعراق اوشام داسلامی دولت په طرف نه وای پرانیستلی یا دهغو سره نه وای یوځای شوی ؟

دویلو بل مهم ټکی چی باید پرهغه باندی رڼا واچول شی هغه دادی چی : دعراق وشام داسلامی دولت به څه شمیر کدرونه وروسته له هغه چی دسوریی آزاد پوځ په اوردن کی د امریکی دمتحده ایالاتو دنظامی مشاورینو پواسطه سره تربیه او په مدرنوسلاحګانو باندی سمبال شوی دی به دسوری دآزاد پوځ له لیکوڅخه وتلی اوسی.؟ کوم چی هیڅوک نشی کولای چی ددی سوال ریښتیا نی ځواب وواییی اما دهغو کدرونو شمیر به هیڅکله صفر (Zero)هم نه وی ،اوهغه داچی ددی نکتی ځواب دما درجونز(Mother Jones) پواسطه سره ورکول کیږی ، یا داچی کم ترکمه دغه موضوع دکلنتون اود پطریوس په واسطه سره دیو ټوکی یا دملنډی په بڼه څارل کیږی سربیره پرهغه د(کینټاکی دایالات جمهوری خواه سناتور) ښاغلی رندپاول(Rand Paul) اودهیلری تر مینځ به یو څه راز پروت وی کوم چی هغه په رقا بتی بڼی سره داسی څرګندونه وکړچی ممکن ډیری سلاحګا نی دمعمرالقذافی له زردخانی څخه لوټ کړل شوی اوسی اوبیا دهمدی سوریی شورشیانو ته په لاس راپریوتی وی ، په هرصورت سره ددی ټولو پورتنیو یادونو څخه اصلی پوښتنه د (Al -Entisar) دخیریه نهاد دپټواومرموزو مرستو په هکله دی کوم چی دغه خیریه موسسه د بشرخواها نه مرستو ترعنوان لاندی د ترکی له لاری د بیړی پواسطه سره خپل هر اړخیز کمکونه دسوریی دشورشیانو دمرکز (ستاد) سره ترسره کوی ؟

دوهم : په خاصه توګه د سوریی د شورشیا نو څخه دامریکی دمتحده ایالاتو ښکاره ملاتړ بی له شکه د سوری شورشیا ن دځنواسلامی کړیواوحلقوپه نظرکی له اعتباره غورځوی اوپه همدی وجهه دغه بی اعتبا ره شوی شورشیا ن ورو ورو د سوریی د آزادپوځ دشورشیا نو دګروپونو څخه ځان ګوښه کوی خصوصاً هغه وخت چی واشنګټن د سوری دآزاد پوځ د بریا د پاره په هوایی یرغل لاس پوری کوی نو دغه شورشی بی اعتباره ګروپونه د سوری دآزاد پوځ دلیکو څخه کوم چی نوموړی شورشیان دواشنګټن له خوا ملاتړ کیدل را وځی او دداعش له شورشیانو سره یوځای کیږی .

دریم : دسوریی دآزاد پوځ دشورشی ګروپونو یوه بله چُپ یاغلی ونډه اخیستونکی ځواک داسرایل دولت دی کوم چی دهغه په اړه چی ایا دسوریی دآزاد پوځ سره ښکاره مرستی کوی اویا نه کوی ؟ لا تر اوسه کوم ښکاره شواهد په لاس کی نشته اما داسرایل دځنو لوړ پوړو چارواکو له رسمی ویناو څخه داسی معلومیږی چی تل ابیب چندان علاقه نه ښیی چی د عراق اوشام د اسلامی دولت فعا لیتونه محدود کړل شی نو په دی اساس

اسرایلی مقا ما ت له واشنګټن څخه غواړی چی د داعیش د شورشیا نو د فعا لیتونو اودسوریې د شورشیا نو په باتلاق (جبهه زار) کی ډیر سنجول شوی او ژور ګامونه را وچت کړی .

په دی وروستیو عمومی پیښو داسپین (Aspen) په انستیوت اودامریکی به متحده ایالاتو کی د اسرا یل پخوا نی سفیر ښاغلی میخا یل اورین (Michael Oren) پخپل یوخبری وینا کی په ډیر صراحت سره وویل : د سنی مذهبو جها دیا نو اود ایران د شیعه ګانو تر مینځ د ښمنی داسی توصیف کیږی چی دغه سنی مذهب جها دیا ن بد خلک دی اما ډیر «شریر » خلک نه دی لاکن هغسی چی مونږ تل وایو هغه دادی چی بشرالاسد دی باید له مینځه لاړ شی نو په دی بنیاد مونږ دتل دپاره هغو بدو خلکو کوم چی هغو دایران له طرفه نه ملاتړ کیږی نظر وهغو بد و خلکو ته چی دایران پواسطه سره ملاتړ کیږی ترجیح ورکو. پروسږکا ل داسرایل ددولت د ستراتیژی دروابطو وزیر ښاغلی سیما شین (Sima Shine) په لاندی متن سره داسی یو اعلامیه صادرکړ:

[ داسی یو الترناتیف یا تعدیل « کوم چی اسد له قدرته نسکور شی او دهغه پرځای دغه جهادی ګروپونه په واک ورسیږی ښه الترناتیف نه دی » اومونږ په سوریه کی لاتراوسه کوم یو ښه انتخاب یا (option) نه لرو اما داسد پا تی کید ل اودهغه ښه اړیکی دایرانیانو سره ډیربد او زمونږ دمنلو وړ نه بریښی نو په دی وجهه داسد په رانسکوریدو سره مونږ کولای شوچی خپل فشار پر ایران باندی زیاته کړو ].

له بل اړخه اوس هیچا ته دتعجب اودحیرانتیا ځای پاتی نه دی او هغه داچی له ډیر اوږدی مودی څخه چی درک او احساس شوی هغه په منطقه کی داسرایلیانو ښکاره توطه اودسیسه دی اوپیا په ځانګړی بڼی سره اسرایلی مقا ما ت دسوریې دداخلی جګړی وضع له ډیر نژدی څنډی څخه څا ری او د نوموړی جګړی د بد پا یلی هیله مند دی ، داهغه مطلب دی چی نیویارک تایم پخپل یو ګڼه کی خپور کړی وه .

په منطقه کی داسرایل هد ف دامکان ترحده پوری داختلافاتو اوداړو دوړوچاغول اود خپل اسلامی دښمنانوترمینځ نفاق اویودبل سره په متضا دواومتقا بلوډلو ویشل دی او په ډیر پوره هوډ سره غواړی چی دخپل ګاونډی عربیو هیوادونو په مینځ کی موجوده باور او اعتماد له مینځه ویسی اوهغوی دایران په مقابل اوپر ضد را وهڅوی لکه چی اورین (Oren) دامریکی په متحده ایالاتو کی داسرایل پخوانی سفیر په ډیر سپین سترګی توب هڅی اوانه سره دعراق شام داسلامی دولت اودالقاعدی په اړه په تایدی بڼی سره داسی توضیح ورکړ او وویل :زمونږ نزاع اومخا لفت دعربا نو سره نه دی بلکه زمونږ شخړه او نزاع دایرانیا نو سره دی اوهغه داچی دوی زمونږ د دیرو اهدا فو په مخه د اریل شیرون (Ariel Sheron) دورځو څخه لا تراوسه خنډ شوی دی .

نوموړی سفیر زیاتوی چی ولی هر یو زمونږ د مینځنی ختیځ دمتحدینو ددی عمل

څخه وروسته له‌ما کوم چی په دی سیمه کی د سنی راد یکا ل ځواک یی رامینځته کړی دی هک اوپک شوی دی ، حال داچی داپخپله دامریکی د متحده ایالاتو دسیاست یوه عملی اود تنظیم کړ شوی طرح یا د پروګرام یوه برخه تشکیلوی او بیا په ځانګړی بڼی سره دغه پالیسی د بوش داداری له وخته پکار ولویدلی اوهغه داچی بوش دامریکایانو دارایی اوپانګی دعراق د سنی مذ هبو په منطقه کی دلا پیا وړی کیدو او دپرمختګ دپاره پکار واچول یا دعراق په نوموړی سیمه کی دامریکایانو دپانګی اچولو شرایط اوحالات مساعد وګرځول او داسی انګیرل کیده چی دغه پا نګی اچونه د سنی مذهبو دنوی جهت یا بی یا د چرخش دپاره د یو پارسل یا د یو تحفی بڼه او ارزش به ولری او دا د سیمیور هیرش (Seymour Hersh) د جملی هغه برخه زما د ذهن په هنداره کی را ژوندی کوی کوم چی هغه په کال (۲۰۰۶)کی ما ته په پشبینی بڼی سره کړی وه اوهغه داچی په دی منطقه کی د امریکی متحده ایالات به په راتلونکی کی دا سی یو سترا تیژی غوره کړی چی هغه په اصطلاح دشیعه ګانو د هلال سره معامله کول وی یعنی هغه هلال چی ایران ، عراق اودلبنان هغه برخه کوم چی د حزب الله ترولکی لاندی دی په برخه کی نیسی اود امریکی دمتحده ایالاتو دنوی محا فظه کارانو ( نیوکان ) په با وردغه دشیعه دهلال دمنطقی دخلکو زوردصدام حسین څخه وروسته به هغه نوی ګواښ اوتهدید وی چی ممکن مونږ امریکا یا ن اوزمونږ متحد ینو به دهغه سره مخامخ شی .

دامریکی د متحده ایالاتو سنی دریځ پلو پالیسی جوړونکوو سره دیولږ را پیش شوی اداری بدلونونو بیاهم دخپل پا لیسی څخه په ښځ نشول بلکه لا پسی دخپل غوره شوی پالیسی څخه ننګه وکړل ، خصوصاُ د عربی بها ر د ځا ن ستا ینی اولافی با تی څخه دواړو یعنی دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نیو چارو وزیره اغلی هیلری کلنتون او په شرمو سره خپل ځان شرمو لی پتریوس(Petraeus) کوم چی او س لا هم د امریکی دمرکزی اطلاعا تو (سی آی آی ) مشری پرغاړه لری د سوریی شورشی ګروپونو سره خپل هراړخیز مرستی نه دی سپمولی .، او سُنی مذهبو پخپل وار سره د خپل روښا نه برخه لیک دټاکلو په وخت کی کله چی دری اخرالزمان سړی وژونکو عناصرو هریو هیلری کلنتون ، سوزان رایس (Susan Rice) اوپه ملګرو ملتونو کی دامریکی اوسنی سفیر زامنتا پور(Samantha Power) اوباما ته په غوږکی ویلی چی دلیبیا رژیم باید تعویض یا بدل کړ شی اودهمدی هڅی اواند په روند کی دامریکی متحده ایالات اودهغه سره ډیر نژدی متحد یعنی (ناتو) خپل هراړخیز کمکونه د لیبیا داسلامګراملیشیا یی شورشیا نو سره جا ری وسا تلی یعنی چی دلیبیا درژیم د تغیر او دبد لون د هد ف د تر سره کولو په منظور دنوموړی شورشیا نو سره هوایی ، خمکنی اوپه بین المللی عرصه کی له دیپلوماتیکی هلو ځلو څخه ترشا نشو .

دپاملرنی بل مهم ټکی دا چی لیبیا دچاودنو اودانفجاراتو داغیزو اودناوړی تاثیراتو څخه نه وه را خلاصه شوی چی د امریکی د متحده ایالاتونوی محا فظه کاران (نیوکان) اودهغو ی سره متحد بین المللی مداخله کونکی ډلی ټپلی او هم دامریکی د متحده ایالاتو په دموکرات ګوند کی ځنی لوړ پوړی چارواکی په سوریه کی داهل سنت د برخه لیک دټاکلو په لټه کی دخپل مرستو دپلانونو په پلی کولو کی په کار پیل وکړل او پر اوباما باندی فشار واچول او هغه داچی اوباما باید په بشر الاسد باندی تهمت ولګوی چي هغه په سوریه کی دسوری دشورشیا نوسره په جګړه کی زهری او وژونکی ګاز استعما لوی نو داسد ددغه ډول کړنو په بد له کی مونږ باید لکه هغسی چی په لیبیا باندی هوایی یرغل ویوړل باید دخلکو داعتراضا تو د مینځه وړلو د پاره هرومروپر سوریه باندی باید په هوایی تهاجم سره بمونو وغورځوو.

دعراق اوشام اسلامی دولت هیڅکله بی دواشنګټن د نا ورین ستراتیژی له ډډه لګولو څخه کوم چی اوس ځانته شکل نیولی یا جوړ شوی دی اوپه هغه کی سنی مذهبو افراطی ډلی تنبول شوی دی مینځته نه راتلل اویا هرګز نه جوړیدل ، ا ما اوس چی د ا مریکی متحده ایالات دخپل مزخرف اواحمقا نه ستراتیژی په نظر کی نیولو اویا بیاله سره کتلو سره دخپل کړنی څخه پیښیمانه شوی دی ممکن چی دهغی دپاره ځنی دلایل ولری اما په هرصورت اوس ډیر ناوخته شوی دی او ځما په اند لکه هغسی چی زه خپل متحد ین په منطقه کی ګوروم حتی چی اسرایل اوس داوباما لارښونی اود ستورته د لسو سنتو ارزش هم نه ورکوی .

پروسږکال په همدی وخت او زمان کی ولادیمیر پوتین (Vladimir Putin) په ډ یر ش

ښکاره بڼه سره ددغه روان سناریو پرضد کوم چی اوس په مینځنی ختیځ کی ترسترګو کیږی مخکی دمخکی په دی لاندنی متن سره خبرداری ورکړی وه :

*« که چیری اسد نن لاړ شی ، نو دواره بوسیاسیی خلا رامینځته کیږی ، هغه به څوک وی چی دغه خلا ډکه کړی ؟ ممکن دغه تروریستی ډلی ټپلی؟ کوم چی دهیڅا نه خونبیری ؟ اما که احیاناً دغه ډلی ټپلی مسلح شی او په تهاجم پیل وکړی ، دهغو به څرنګه مخنیوی وکړل شی ؟ »*

اوس دپوتین هغه وړاندوینه دعمل جا مه واغوستل اومونږ اوس دپوتین سره داوکراین دموضوع په اړه له حده زیات په مقابله اونا ندری کی ځا ن ښکیل کړی او په دی ورځو کی داسی خوبونه وینو او هغه داچی څه مو چی د ا سد سره کړی وه د پوتین سره به هم باید ترسره کړو،اما دبلی خوا څخه اوس تا سی کولای شی چی زمونږ دسیا ست جوړونی د ما شین د څرخ او دپری آواز په یو ناڅاپه بڼی سره ممکن اوریدلی اوسی او هغه داچی د«ادلف هیټلر » دوروستی نسخی په نظر کی نیولو سره دغرب اطلاعاتی

اداره غواړی داسد داطلاعاتی اداری سره په سوریه کی دداعیش دافراطی ډلی ټپلی په مقابل کی سره ګډی همکاری وکړی .

ما دا له یاده ایستلی وه او هغه داچی مونږ همیشه دایرواسیا یا دحتیځ اسیا سره جنګ اوجګړه کړی دي.

*ددی ټولو یادونو څخه مونږ ته عبرت اودرس به څه وی ؟کله چی مونږ دمداخلی په مشق اوتمرین باندی پیل وکړ نو دسپینی مانی اداره نه یواځی داچی دامریکی خلکو ته دسوریی دآزاد ی د اصلی ماهیت په اړین دخلکو څخه دمالیاتو دټولولو په اړه ددروغو ځاله اوبدل بلکه د«سنی مدهبودچرخش» په اړه هم دامریکی خلکوته ددرواغو یوه بله ځاله هم جوړ کړل او هغه داچی له هغو څخه دانتقام اودغچ اخیستو موضوع دی .*

دلرغونی یونان په داستانونو اوقصو کی یوه داستان دسیاستوالو د ټولګی دپاره ځانګړی شوی دی او هغه داچی کله سیاستوالو په کوم ګناه ککړیدل هغو ته داسی یو کلمه پکا روړل کید ل چی هغه کلمه عبارت له غرور او سر کشی څخه وه ،دغه غروراوسرکشی یوډول طرزتفکروه چی دهغه ستنی دباورمندی اوداعتقاد پربنیاد ولاړ وه ، غرور او سرکشی په دی معنی چی ځنی انسا نا نو دخدایانو دآوامرو څخه نافرمانی کول ، نو ددی خلکو د سرغړونو د مخنیوی دپاره یا داچی هغوته چی د مقد سا توپه وړاندی سرکشی کول الهه یا رب النوع ولیږدول شو چی یو ددغه رب النوعو څخه نمسیس (Nemesis) دی .کوم چی دهغه معبد لاتراوسه په مکدونی کی داولمپ د غردپا سه موجود دی ، نمسیس



*نمسیس دانتقام اودغچ اخیستو الهه یا رب النوع*

*دلرغونی یونا ن په اساطیرو کی د مفهوم له مخی دخیانتکارانو څخه غچ اخیستنه دی چی دغه مسولیت د نمسیس ربالنوع پواسطه سره ترسره کیدل یعنی نمسیس په کامل*

*بی پروایی  اوتپول جرءت سره خیانتکاران ځارل  اود  هغو څخه غچ اخیستل یا د نمسیس مفهوم کوم چی مونږ ته دیکته شوی دی په واقیعت کی دیوشی یا دیوکس  داستاذی  دغیر قابل اجتناب  راښکته کیدل یا دهغه لاندی پریوتل دی  اودهمدی مفهوم په نظرکی نیولو سره دداعیش ددولت  اصلی ریښیی  په قوی احتمال سره داسی انګیرل کیږی  چی دغه پدیده  یا ددغه پدیدی ریښی به دنړی  په تولو برخو کی به وځغلی .*

ښه ، پس نو دغه په اصطلاح ضد مداخله کونکی  مونږ ته څه ویل غواړی چی  څه به وکړی ؟  یاداچی دامریکی دمتحده ایالاتو  اودهغه په سرکی  د سپنی ما ڼی  واکداران دداعش  داسلامی افراطی  دولت سره کوم چی د سوریی  نیما یی   برخه  ا و د عراق یوپردریمه برخه ترخپل ولکی لاندی لری  څه باید وکړی یا څه کول غواړی چی ترسره کړی ؟

ښه ، پس نو دمداخلی کونکو ضد اومخا لف عناصر مونږ ته وویل  چی  مونږ  اوس بایدڅه وکړو؟ یا داچی دامریکی دمتحده ایالاتوکوم چی ځانته دمداخلی کولوضد اومخالف بولی اوس دداعیش  داسلامی افراطی  دِلی تپأی سره کوم چی دسوریی نیمایی او دعراق یوپردریمه برخه دهغو ترولکی لاندی دی څه باید وکړی  یاڅه کول غواړی ؟


ددی سوال ځواب  دادی : پرېږدی  چی اسد ، ایرانیان  ،ترکان اوروسان  له هغه وخته چی دهغوی  دولتونه دداعیش تر ګواښ لاندی راغلی یا رابه شی پخپله دخپل غم وخوری یا دخپل ځان څخه مراقبت وکړی  اومونږ خو څه لیونیان نه یو چی دهغو دپاره  دداعش پرضد  جنګ اوجګړه وکړو .

دجنګ دګوند سره مخا لفت دیو ډول عقلی ناروغی(hebephrenic)په ښه  اودمداخلی دپاره دبیا له سرکتنه زمونږ له طرفه دداعیش  پرتخریبی کړنی با ندی د نه اقدام یواصلی اوکلیدی موضوع را تشکیلوی   داسلامی دولت مشر اوخلیفه  بی له دی چی په  ډیر زړه ورتیا سره دامریکی دمتحده ایالاتو په ضد په منطقه  کی دخپل بیا له سره  داخلید و  سره سپنی خبری وکړی نور څه  نه به وی .  دغه امر کیدای شی چی دعراق شا م  داسلامی دولت  دپاره یو ډیر فوق العاده تبلیغا تی بری وګڼل شی  اوداځکه  چی دغه بری هغو ته په بین المللی برخه کی  داسی زمینه ور په ګوته کوی چی ډیری  نو ر افراطی   اسلامی ځواکونه  ځانته را جلب کړی اودهغو ځای ډک کړی کوم چی دامریکی دمتحده ایالاتو د بي پیلوتو الوتکو پواسطه سره له مینځه تللی اویا په قتل  سره رسیدلی دی .


که دعراق دطبعی پیښو سیر  اوجریان ته اجازه ورکړو  اودهغه د داړونکی ګاونډیا نو حریصا نه  لوټما ری دایری کړ شوی اوسوځید لی راپا تی عراق ته کوم چی په   سرکی زمونږ د تجاوز  له امله دړی وړی شونظر  واچوو داسی یا یلی ته رسیږو  چی که چیری مونږ  یو پرابلم را مینځته کوونوددی توان هم لرو چی پرابلم  یا ستونزی له  مینځه ویسو اما  په اجتناب ناپذیر بڼي اویا دمجبوریت له مخی دیو  غټ مقدار مالی لګښتونو په لګولو سره  اوهغه هم دلمړنی خطا  اوغلطی د اصلاح کولو دپاره  کوم چی مونږ په لمړی سر

کی  په بشپړ غلطی او خطا سره پرعراق باند تجاوز وکړ.

دعراق وشام اسلامی دولت چارواکی د( Sykes picot موافقی ( دغه تعهد دآسیا دجزوی عهد نا می په نوم وپیژندل شو ، کوم چی دغه توافقنا مه د بریتا نیا ، فرانسی اودروسیی ترمینځ په پټه سره لاس لیک شو چی ددی توافق نامی په رڼا کی د معاهدی شامل هیوادونه وشی کړلی چی داسیا په غرب کی پرخپل اشغال کړل شوی سیمه کی نفوذ ولری اوله نوموړی سیمو څخه دفاع وکړی اودبلی خوا څخه دهمدی توافقنامی په رڼا کی وه چی دنړیوال په لمړی جګړه کی عثمانی آمپراطوری په ګنده کیږی نوموړی توافقنامه دنومبر په میاشت کال «۱۹۱۵ او دمارچ دمیاشتی په کال «۱۹۱۶» تر سره کیږی چی ددی توافقنامی له مخی ددری واړولاس لیک کونکو هیوادونو د نفوذ ساحه په لاندی نقشو کی ښودل شوی دی ----د مترجم په وضاحت سره )په خیردخپل اعلامی په پای کی یو غښ معا ملی ته لاس پوری کړل اود اسی راڅرګند کړل چی ګواکی دوی دغه موجوده حالات دخپل نظامیا نو پواسطه سره دړی وړی کړی دی اوپه سمبولیک بڼی سره داسی یادونه کوی چی مونږ د سوریی او دعراق دپولو تر مینځ سیمی بلکل ستره اوپاکه کړی دی اما ددوی دغه ادعا د خندا وړ اوپرخپل ځان پوری ملنډی وهل دی اوهغه داچی ددوی دغه تیت اوپرک اونامنظم نظامیان چی دهغو په ادعا سره شمیر یی (۱۷۰۰۰) کسو ته رسیږی په هیڅ بڼی سره نشو کړلی چی په منطقه کی د حالاتو تغیر رامینځته کړی اوهیڅکله دهغو دغه ادعا سمه نه ګڼل کیږی اوهغوی ابداً بی له خارجی مرستو اوملاتړ څخه سربیره پرعربستان سعودی - قطر نشو کولای چی یوڅه لاسته راوړنی ولری تر څو چی دواشنګټن بشپړ ملاتړ ترلاسه نه وی کړلی .




د( Sykes picot agreement) دتعهد نامی پوری دتړلی هیوادونو دنفوذ دساحی اودسیمی نقشه




پورتنی نقشې پورې ضمیموی نقشه

مونږ له دی نه چې د (Sykes picot agreement) په خیر موافقه دعراق پر استقلال اویا دعراق داستقلال په له مینځه وړلو با ندی دهغه اغیزه ومنوپه بشپړ بنې سره ردوو او اصلاً دهغه په شان اغیزی چې دعراق استقلال ته تاوان رسولی اوسی قطعاً دمنلو وړ نه ګڼو ، اما هغه څه چې په عراق کی حالات ځانته بله څیره نیسی هغه داسی توضیح کیږی : هغه وخت چې واشنګټن د عراق دسنی مذهبو قبایلو سره دعراق په اصطلاح دماتی څخه دمخنیوی اوله عراق څخه دالقاعدی دځواکونو دوتلو په منظور بشپړ اړیکی اوتوافق صورت نیسی ،نودهمدی بی ګټی اوبیهوده توافقنامی په رڼا کی دعراق د هیواد ټول سرحدادت له کنترول څخه خارجیږی او سُنی مذهبو قبایلو د عراق او د عراق له ګاونډیو هیوادونو سره اوږه په اوږه دبغداد دواکدارانو اودخپل امریکایی ملاتړو سره په مخالفت او جګړه لاس پوری کوی کوم چې اوس مونږ دغه حالات په رڼوسترګو ګورو .

دعراق اوشام اسلامی دولت ونشو کړلی چې د (Sykes –Picot Agreement) په څیر توافقنامه په پارچو اوځانګو سره ټوټې ټوټې اویا وچوی ،مونږ داوسنی حالاتو په نظر کی نیولو سره حتماً هغه عواقب په نظر کی ونیسو اودهغه عواقبو سره خپل برخه لیک اوژوند وتړو لکه چې نمیسس (Nemesis) یا د غچ اخیستلو الهه خپل غوښې ویلی کول .

ډیر ښه او دمنلو وړ کورس چې مونږ باید اوس هغه ولولو اویا داچې خپل ماشومانو ته مخکی دهغه چې ځوانی اوبزرګ سا لی عمر ته ورسیږی هغوی باید پرته دفزیکی احساس څخه نور زیاتو موضوعاتو باندی ځان پوه کړی او هغو ته ورزده کړو چې هر عمل خپل پایلی لری . نو په دی وجهه په مینځنی ختیځ کی هر ډول کړنه اواقدام مونږ ته دا مفهوم ترلاسه کوی چې باید ددی منطقی څخه د باندی اووسو یادا چې ددی منطقی

ښځه باید دباندی ووځو .

--------------------------------------------------- په ډیر درناوی